# د یونس نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

د یونس نبي کتاب د سپېڅلي کتاب د نورو پیغمبرانو د کتابونو سره فرق لري، دا د یونس نبي په هکله یوه کیسه ده. په دې کتاب کې مونږ یو نبي وینو چې سرغړونه کوي، خو بې‌دینه او کافران کشتۍ چلوونکي توبه وباسي او یو قدرتمند پاچا خپل ځان عاجز کوي. دا کتاب د یوې پوښتنې سره پای ته رسیږي چې په هغه کې ټولو لوستونکو ته یوه وینا ده: ایا دا ستاسو دپاره ښه خبره ده چې خدای ستاسو د دښمنانو سره مینه وکړي؟ خدای یونس ته وویل چې نینوا یعنې د آشور د لویې امپراتورۍ پایتخت ته لاړ شي، یعنې د اسراییلو سرسخته دښمنانو ته. خو یونس نه غوښتل چې د خدای د پیغام سره هلته لاړ شي، ځکه چې هغه په دې باندې باور درلود چې خدای به د ښار د جوړولو نقشه عملي نه کړي. سره له دې چې تګ ته راضي نه ؤ، خو بیا یې هم اطاعت وکړ او په پای کې کله


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې د هغه د عذاب او فنا کېدلو پیغام ربښتیا نه شو، نو غمجن شو.

دا کتاب په خپل مخلوق باندې د خدای د مطلق حاکمیت تصویر ښکاره کوي. خو د ټولو نه زیات دا تصویر خدای د مینې او رحمت د خدای په توګه څرګندوي چې دا غوره ګڼي د دې په ځای چې د خپل قوم دښمنانو ته سزا ورکړي او له منځه یې یوسي، هغوی وژغوري.

## د موضوعګانو لست


یونس او کشتیوانان: ۱ فصل

د یونس لومړنۍ دعا: ۲ فصل

یونس او د نینوا خلک: ۳ فصل

د یونس دوهمه دعا: ۴ فصل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# یونس د څښتن څخه تښتي

١ یوه ورځ څښتن د امتای زوی یونس ته وویل: ٢ «د نینوا لوی ښار ته لاړ شه او په ضد یې وعظ وکړه. ځکه ما ولیدل چې د هغه ځای خلک ځومره بدکاره دي.» ٣ خو یونس په بلې خوا روان شو، په دې خاطر چې له څښتن څخه وتښتي. هغه یافا ته لاړ او هلته یې یوه کشتۍ ولیدله چې هسپانیې ته روانه وه. هغه خپله کرایه ورکړه او د کشتیوانانو سره سپور شو چې هسپانیې ته سفر وکړي او د څښتن څخه لیرې شي.

٤ خو څښتن په بحیرې باندې یو قوي باد نازل کړ او دا توفان دومره تیز ؤ چې هغه کشتۍ د ماتیدلو په خطر کې وه. ٥ ټول کشتیوانان وویریدل او هر یو خپل خدای ته فریاد وکړ. هغوی بارونه بحیرې ته ورګوزار کړ، ترڅو کشتۍ سپکه شي. خو یونس د کشتۍ دننه لاندې نښوتی ؤ او هلته په درانه خوب ویده ؤ. ٦ د کشتۍ مشر هغه ته ورغی او ورته ویې ویل: «څنګه ویده پروت یې؟ پاڅه او خپل خدای ته فریاد وکړه! کیدای شي چې هغه په مونږ باندې رحم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي او زمونږ ژوند وژغوري.»

٧ بیا هغو کشتیوانانو یو بل ته وویل: «راځئ چې پچه واچوو
چې دا معلومه کړو چې دا بلا د چا له امله په مونږ باندې راغلې
ده.» هغوی پچه واچوله او پچه د یونس په نوم وختله. ٨ بیا هغوی
د هغه څخه پوښتنې وکړې: «مونږ ته ووایه چې په دې کې څوک
ملامته دی چې دا بلا یې په مونږ باندې راوستې ده؟ ته څه کار
کوې؟ د کوم وطن څخه راغلی یې؟ د کوم قوم څخه یې؟» ٩ هغه
په ځواب کې وویل: «زه یو عبرانی یم او د څښتن، د اسمان د خدای
چې بحیره او ځمکه یې جوړ کړي دي، عبادت کوم.» ١٠ یونس
هغوی ته وویل چې زه د څښتن څخه تښتم. نو کشتیوانان ډېر
وویرېدل او ورته ویې ویل: «دا تا څه وکړل!»

١١ توفان نور هم زیاتېده، نو هغوی د هغه څخه پوښتنه وکړه:
«مونږ تا سره څه وکړو چې توفان ودرېږي؟» ١٢ هغه په ځواب کې
وویل: «ما پورته کړئ او بحیرې ته مې ورګوزار کړئ، نو توفان به
غلی شي. ځکه زه پوهېږم چې دا لوی توفان زما له امله په تاسو
باندې راغلی دی.» ١٣ د دې په ځای کشتیوانانو هڅه وکړه چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کشتۍ وچې ته وباسي. هغوی د خپل ټول قوت څخه کار واخیست،
خو توفان نور هم زیاتېده او هغوی څه ونه شو کولی. ۱۴ بیا هغوی
څښتن ته فریاد وکړ: «ای څښتنه، د دغه سړي د وژلو په خاطر مونږ
مه مړه کوه او د هغه د مرګ مسوولیت زمونږ په غاړه مه اچوه، ځکه
چې تا ای څښتنه، په خپله خوښه دا کار کړی دی.» ۱۵ بیا هغوی
یونس پورته کړ او بحیرې ته یې ورګوزار کړ او توفان سمدستي غلی
شو. ۱۶ په دې کار هغه سړي د څښتن څخه ډېر ووېرېدل او هغوی
څښتن ته قرباني وړاندې کړه او نذرونه یې ورکړل.

۱۷ څښتن یو لوی ماهي ولېږه چې یونس ژوندی تیر کړي او
یونس درې ورځې او درې شپې د ماهي په ګېډه کې ؤ.

## د یونس دعا

۱ د ماهي د ګېډې څخه یونس خپل څښتن خدای ته دعا وکړه:

۲ په خپل تکلیف کې مې ای څښتنه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تاته غږ وکړ

او تا ځواب راکړ

د مړو د نړۍ د ډېر ژور ځای څخه

ما فریاد وکړ د مرستې په خاطر

او تا واورېده

٣ تا زه ژورو اوبو ته ورګوزار کړم

د بحیرې تل ته

او سیلاب راګېر کړم

او زما په سر تېرې شوې ستا زورورې څپې

۴ نو ما وویل چې زه شړل شوی یمه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا له نظره څخه

خو بیا به هم زه سترګې واړوم

ستا د سپېڅلي کور خواته

۵ اوبه راباندې راغلې او ساه اخیستی نه شم

او شوې راچاپېرې له ما د بحیرې اوبه

زما د سر څخه راتاو شول د بحیرې وابنه

۶ ورسېدم زه دغرونو بېخ ته

لاندې ځمکې تل ترتله راګېر کړمه زه

خو تا راووېستم ژوندی د مرګ له کندې څخه

ای څښتنه زما خدایه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ کله چې وتله زما ساه

نو ته مې رایاد کړلې ښښتنه

او زما دعا ورسېدله تاته

ستا سپېڅلي کور کې

٨ چې بې‌ارزښته بتانو ته کړي عبادت ځوک

هغوی پرېښی خپل امید دی د خدای د تلپاتې مینې

٩ خو د شکرګزارۍ په کولو سره

زه به وړاندې کړمه تاته قرباني

او ما چې منلی نذر، زه به يې ورکړمه

راځي خلاصون د ښښتن له خوا نه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ بیا څښتن په ماهي باندې امر وکړ او ماهي یونس وچې
ځمکې ته ورګوزار کړ.

## یونس د څښتن اطاعت کوي

۱ بیا په دوهم ځل څښتن یونس ته وویل: ۲ «همدا اوس د
نینوا لوی ښار ته لاړ شه او هغه پیغام خلکو ته اعلان کړه چې زه
یې تاته درکوم.» ۳ نو یونس د څښتن خبره ومنله او نینوا ته لاړ.
نینوا یو ډېر لوی ښار ؤ چې په ګرځېدلو کې یې درې ورځې لګېدلې.
۴ یونس د ښار په منځ کې روان شو او د یوې ورځې له ګرځېدلو
څخه وروسته هغه خلکو ته داسې اعلان وکړ:«نینوا به په څلوېښتو
ورځو کې وران شي!»

۵ د نینوا خلکو د خدای په پیغام باندې باور وکړ. نو هغوی دا
اعلان وکړ چې هر یو تن باید روژه ونیسي او ټول خلک د لوی
څخه نیولې تر کوچنې پورې باید د ویر کالي واغوندي، ترڅو دا
وښايي چې توبه یې ویستلې ده.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ کله چې د نینوا پاچا د دې خبرې په هکله واورېدل، هغه د خپل تخت څخه پاڅېد، خپله چپنه يې وويستله، د وير کالي يې واغوستل او په ايرو باندې کښېناست. ۷ هغه د نینوا خلکو ته داسې يو اعلان وکړ: «د پاچا او د هغه د درباريانو له خوا يو حکم وشو چې هېڅوک دې څه نه خوري. ټول خلک او حيوانات، پادې او پسونه د خوراک او د څښاک څخه منع دي. ۸ ټول خلک او حيوانات بايد د وير کالي واغوندي. هر يو بايد په جدي توګه خدای ته دعا وکړي او د خپلو بدو کارونو او زور زياتي څخه لاس واخلي. ۹ څوک پوهېږي؟ کېدای شي بياهم خدای خپله پرېکړه بدله کړي او د خپل سخت قهر څخه راوګرځي، ترڅو مونږ هلاک نه شو.»

۱۰ کله چې خدای وليدل چې هغوی څه وکړل او څنګه هغوی د بدو لارو څخه راوګرځېدل، نو هغه خپله پرېکړه بدله کړه او هغه تباهي يې وربانديې نازله نه کړه چې د هغې ګواښ يې کړی ؤ.

## د يونس قهر او د خدای رحم


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱ یونس په دې باندې ډېر خفه ؤ او په قهر شو. ۲ نو هغه
داسې دعا وکړه او ویې ویل: «ای څښتنه، ایا دا هغه څه نه دي چې
ما هغه وخت وویل کله چې زه په خپل وطن کې وم؟ له همدې امله
ما بیړه وکړه چې ترشیش ته وتښتم، ځکه زه پوهېدم چې ته رحیم
او مهربانه خدای یې. زر نه په قهرېږې او ستا تلپاتې مینه ډېره زیاته
ده، تا خپله پرېکړه بدله کړې او خلکو ته به سزا ورنه کړې. ۳ نو
اوس ای څښتنه، زما ژوند واخله، ځکه چې زما دپاره د ژوند څخه
مرګ ډېر ښه دی.» ۴ څښتن په ځواب کې وویل: «ته څه حق لرې
چې په قهر شې؟»

۵ یونس د ښار ختیځ خواته لاړ او کښېناست. هغه د خپل ځان
دپاره یو پناه ځای جوړ کړ او د هغې لاندې کښېناست، دا انتظار یې
کاوه چې وویني په نینوا باندې به څه پېښ شي. ۶ بیا څښتن
خدای یو بوټی راشین کړ چې په یونس باندې سیوری وکړي، ترڅو
د هغه قهر سوړ کړي. یونس د بوټي دپاره ډېر خوشحاله شو. ۷ خو
په راتلونکې ورځ سهار وختي خدای یو چینجی راولېږه او هغه بوټی
یې وخوړ او هغه وچ شو. ۸ کله چې لمر راوخوت، خدای د ختیځ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

له خوا تود باد راوالوزاوه او تر هغه وخته پورې لمر د یونس په سر
باندې لګېده چې هغه کمزوری شو. هغه غوښتل چې مړ شي او ویې
ویل: «زما دپاره د ژوند څخه مرګ ډېر ښه دی.»

۹ خو خدای هغه ته وویل:«ته څه حق لرې چې د بوټي په
هکله په قهر شې؟» یونس په ځواب کې وویل: «زه حق لرم چې په
قهر شم، دومره په قهر شم چې مړ شم!»

۱۰ څښتن هغه ته وویل: «ته په دې بوټي باندې چې د هغه دپاره
دې هیڅ زحمت نه دی ویستلی او نه دې لوی کړی دی، زړه
سوځوې. دا بوټی په یوه شپه کې راشین شو او په بله شپه وچ شو.
۱۱ نو ایا زه د نینوا په لوی ښار باندې زړه ونه سوځوم؟ هلته د یو
لک او شلو زرو څخه زیات خلک شته چې جاهلان دي او
همدارنګه ډېر حیوانات په کې دي.»